# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم


www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |



محمد امین بسمل

۲۵ جنوری ۲۰۱۳



## په جرمني کې دلوړافغان شخصیت اروابښادغلام محمدزرملوال دفاتحې خبرتیا

په ډېره خواشینیسره موخبرواخیست چې په قام، قلم اوعدالت مین لوړافغان شخصیت غلام محمدزرملوال په لندن کې دورېبښي ناروغی له کبله حق ته ځان وسپاره.

انا لله وانا الیه راجعون

موږدجرمني په بایرن آیالت کې مېشت افغانان غواړودمونشن ښاردمیرویس نیکه په جامع جومات کې سباته د جمعې مباره کې په ورځ چې دروان کال دجنوري له ۲۵پنځه ویشتمې نېټې سره سمون خوري د اروابښادغلام محمدزرملوال فاتحه واخلوزموږ ددې لوړافغان شخصیت جنازه همداځوشېبې مخکې دهېوادپه پلازمېنه کابل کې خاوروته وسپارل شوه.

له نېکه مرغه چې سباته دجمعې په دې مباره که ورځ دمیرویس نیکه په جامع جومات کې دمولودشریف په وياړدقران عظیم الشان ختم هم ترسره کېږي موږ هیله من یوچې په ثواب یې دمحترم زرملوال صاحب روح ښاداوتازه شي.

موږبه له خیرسره په ترتیب لمړی دغرمې له دوولس نیموبجوڅخه وروسته دجمعې مباره کې لمونځ اداوبیابه د قران عظیم الشان ختم ترسره کړوله هغه ځخه وروسته به دمحترم زرملوال صاحب روح ته لاسونه لپه اودعاورته وکړو.

له پورتنیومراسموڅخه وروسته دمیرویس نیکه دجامع جومات مسؤلینودغرمې ډوډی بندوبس هم کړی هیله ده له موږ سره پاته شئ.

پاته دې نه وي چې دمیرویس نیکه جامع جومات دټولومسلمانانو،افغانانوپه ځانګړي ډول دبایرن مېشتو افغانانودوروري اوخواخوږي لوی اسلامي، افغاني اوفرهنګي مرکز دی.

دميرويس نيکه په جامع جومات کي ددرى نيمولسيزودشهيدانو، دافغان فيلسوف استاداسداسمائي، د پنجوايي د(زنګاوات) دشهيدانواونوروګڼ شمېر افغانانولپاره دقران عظيم الشان ختمونه او فاتحي نيول شوې دي.

موږدميرويس نيکه دجامع جومات له مشرتابه هيئت اوټولو همکارانوپه تېره بياددې هيئت له مشرمحترم حاجي صاحب احمداحمدزي اومحترم حاجي صاحب انجنيرغمي کاکړڅخه دزړه له تله مننه کووچي دافغانانو دخدمت لپاره يې شپه اوورځ په ځان يوه کړې اوددې لوی مرکزپالنه يې پخپل افغاني همت سره کړې ده.

موږ له خپلو ټولوخواخوږو اوپردېسوافغانانوڅخه په درناوي هيله کووچي زموږپه دې لوی اسلامي،افغاني او فرهنګي مرکزکي خپل غم اوخوښي له موږ سره شريک کړي.

رب تعالی مودې له باقي غمونوڅخه وساتي

الله امين ياربالعلمين

دميرويس نيکه دجامع جومات پته په لاندې ډول ده:

Machtlfingerstrasse 10

U-Bahn 3

München ۸۰۳۷۹

دلازياتومالوماتولاسه کولولپاره له دي لاندي ګرزنده تيليفون سره اړيکه نيولای شئ:

00491734708388

http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/19398